# مالي بنسټونو ته ښه راغلاست!

موږ خوښ یو چې تاسو ځان سره لرو او دا چې تاسو علاقه لرئ د امریکا په متحده ایالاتو کې د مالي سیستمونو او خپلو مالي موخو ته د رسېدو لپاره د پیسو د مدیریت په اړه ځان پوه کړئ.

تاسو به موږ سره د ګډ کار له لارې ځان ته د پیسو د مدیریت، مالي محصولاتو د لاسرسي، د اعتبار د پېژندلو، او خپلو مالي چارو په برخه کې یو پیاوړی بنسټ جوړ کړئ. همدارنګه تاسو به له محصولاتو او هغو مالي خدماتو نه د استفادې په برخه کې د زده کړې له لارې مهارتونه او په ځان باندې باور ترلاسه کړئ چې ښائي تاسو ورسره نا آشنا وئ.

دا ستاسو شخصي د کارخانګۍ کتاب دی چې په راتلونکي کې به ترې د تدریس پرمهال او د مأخذ په توګه استفاده کوئ. ستاسو د کارخانګۍ په کتاب کې داسې لغتونه، مثالونه او منابع شته چې تاسو سره مرسته کوي. همدارنګه په دغه کتاب کې د یادښتونو او پوښتنو د لیکولو لپاره هم ځای شته.

موږ له یو ځای زده کړې خوښ یو او هیله لرو چې دا به ستاسو لپاره هم په خوندي، مؤثره او په زړه پورې وي.



## ستاسو د پیسو مدیریت



د پیسو مدیریت د طرحې جوړلو مالي چارو د تنظیم یوه پروسه ده چې په واسطه يې دا اطمینان حاصلېږي چې تاسو د خپلو اوسنیو او راتلونکو اړتیاوو پوره کولو او اړتیا وړ توکو د پېرلو لپاره کافي پیسې لرئ. په دغه طرحه کې د موخو یا اهدافو تعریف، د بودجې جوړول، ستاسو د مصارفو درک کول ، او همدارنګه ستاسو د پیسو د سپما، مصرف، او نورو سره شریکولو په اړه باخبره پریکړې کول شامل دي.

- د اهدافو تعریفول به تاسو ته دا لارښوونه وکړي چې څنګه خپلې پیسې مدیریت او د ځان لپاره داسې معقولې پرېکړې یا تصمیمونه ونیسئ چې ستاسو او ستاسو د کورنۍ لپاره ترټولو مناسب وي. دا د بودجې جوړولو ته **موخه** ورکوي.
- د بودجې په جوړولو سره به تاسو **وکولی شئ** خپل عواید او مصارف وڅارئ او پدې به پوه شئ چې د خپلو پیسو د ښه مدیریت لپاره باید څه وکړئ.
- د خپل بشپړ مالي وضعیت په اړه ستاسو د پوهې د کچې لوړوالی کولی شي تاسو سره د فشارونو په کمولو، شتمن کېدو، او خپلو مالي اهدافو ته د رسېدو په موخه د منطقي پرېکړو د ترسره کولو په برخه کې ستاسو د **ځواک** په لوړولو کې مرسته وکړي.

## د اهدافو برابرول

د مالي تصامیمو په ګډون، په ټولو تصامیمو کې زموږ کلتور، کورنۍ، نژاد، ټولنه، دین، قوم او داسې نور خپل نفوذ لري. دغه شیان د پیسو په اړه زموږ باورونه او ارزښتونه جوړوي او دا د مالي پرېکړو په ترسره کولو کې یوه مهمه برخه ده.

**د مالي پرېکړو په ترسره کولو باندې ستاسو، ارزښتونه، کلتور، او قومیت څه اغېز یا نفوذ لري؟** د یوه باارزښته شي په اړه فکر کول او دا چې ولې دغه شی ستاسو لپاره ارزښت لري، کولی شي د خپلو لومړیتوبونو (هغو مواردو چې باید لومړی ترسره شي) په پېژندلو او منطقي اهدافو په ټاکلو کې مرسته وکړي.

# زما د مالي بنسټونو لاربنود کتاب

| ولي دغه شیان ستاسو لپاره مهم دي؟ | د هغو مواردو یو لېست جوړ کړئ کوم چې ستاسو لپاره تر بله هر څه ډېر ارزښت لري. |
| --- | --- |
| | |

**زما اهداف**

د ارزښتونو او لومړیتوبونو سره ستاسو د اهدافو وصل کول کولی شي دا نور هم منطقي کړي او تاسو سره د یوې واقعي طرحې په جوړولو کې مرسته وکړي. هغه موخې یا اهداف چې په کافي اندازه ځانګړي او عقلاني وي، په لوړ احتمال سره ترلاسه کېدی شي.

د خپلو مالي موخو په اړه فکر وکړئ او دلته یې ولیکئ:

______________________________

______________________________

______________________________

______________________________

**له لاندې ګراف یا اوصافو نه په استفادې سره خپل "منطقي مالي اهداف تعئين کړئ":**

| په وخت سره | اړونده | ترلاسه کېدونکی | د حساب وړ | ځانګړی |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| | | | | |

| ولې دغه موخه زما لپاره مهمه ده؟ |
| --- |
| |

| خینې وخت اړتیا وي چې په اهدافو کې تغیر رامنځ ته شي. که چېرې کومه ناهیلې پېښه رامنځ ته کېږي او یا هم زما په مالي وضعیت کې بدلون راځي، نو پدې صورت کې زما د اهدافو د تغیر لارې چارې کومې دي؟ |
| --- |
| |

**یادونه**

# زما د مالي بنسټونو لاربنود کتاب

## د بودجې جوړول: پلان یا طرحه

ستاسو موخې یا اهداف تاسو ته د بودجې په جوړولو کې **لاره ټاکي**. ستاسو بودجه ستاسو هغه **طرحه** ده چې په واسطه یې کولی شئ ځان مطمئن کړئ چې د خپلو اړتیا وړ شیانو د پېر لپاره په کافي اندازه پیسې لرئ. دغه معلومات تاسو ته دا **وړتیا** درکوي چې داسې منطقي تصامیم ونیسئ چې په واسطه یې وکړل شئ خپلو مالي موخو ته ورسېږئ.

له خپلو میاشتنیو عوایدو او مصارفو نظارت کول تاسو سره مرسته کوي چې پدې پوه شئ چې آیا د اوس او راتلونکې لپاره د اړتیا وړ شیانو د پېر لپاره په کافي اندازه پیسې لرئ که څنګه.

| **له خپلو پیسو څنګه څارنه یا نظارت کوئ؟** |
| --- |
| |

په خپل عوایدو او مصارفو باندې پوهېدل د بودجې لپاره د طرحې جوړلو پیل دی. هغه پیسې، ملاتړ او د مرستو منابع ولیکئ چې تاسو یې ترلاسه کوئ. دغه پیسې کېدی شي له دندې، عامې مرستو، کډوالو سره د نغدې مرستې پیسې، د کورنۍ او ملګرو له ملاتړ او نورو هغه منابعو څخه ترلاسه شي چې ستاسو د اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته کوي.

_______________________ $ _______________________

_______________________ $ _______________________

_______________________ $ _______________________

_______________________ $ _______________________

_______________________ $ _______________________

_______________________ $ _______________________

_______________________ $ _______________________

_______________________ $ _______________________

_______________________ $ _______________________

_______________________ $ _______________________

_______________________ $ _______________________

# زما د مالي بنسټونو لارښود کتاب

| **په هغې ټولنه کې چې زه ژوند کوم، نورې کوم ډول مالي مرستې او منابع موجودې دي؟** |
| --- |
| |

اوس د خپلو مصارفو او هغو پیسو مقدار ولیکئ چې تاسو يې مصرفوئ. د کارخانګۍ د دغه کتاب په آخر کې د عوایدو او مصارفو نورې پاڼې هم شتون لري چې کولی شئ په راتلونکي کې ترې استفاده وکړئ.

| | |
| --- | --- |
| ______________________________ | $ ____________________ |
| ______________________________ | $ ____________________ |
| ______________________________ | $ ____________________ |
| ______________________________ | $ ____________________ |
| ______________________________ | $ ____________________ |
| ______________________________ | $ ____________________ |
| ______________________________ | $ ____________________ |
| ______________________________ | $ ____________________ |
| ______________________________ | $ ____________________ |
| ______________________________ | $ ____________________ |
| ______________________________ | $ ____________________ |
| ______________________________ | $ ____________________ |
| ______________________________ | $ ____________________ |
| ______________________________ | $ ____________________ |
| ______________________________ | $ ____________________ |

# زما د مالي بنسټونو لارښود کتاب

د خپلو مصارفو لېست وګورئ. هغه کوم مصارف دي چې تاسو یې د خپلو اساسي اړتیاوو د پوره کولو لپاره تادیه کوئ؟ دا هغه مصارف دي چې تاسو لومړی تادیه کوئ. دا ستاسو د جدي-لومړیتوبونو مصارف دي او ډېری وخت هغه ثابت مصارف په کې شاملېږي چې په مصارفو کې تغیر او بدلون نه رامنځ ته کوي او کولی شي هر میاشت تغیر وکړي. آیا داسې کوم مهم څیز شته چې د هغې لپاره پیسې سیموئ او باید دلته یې درج کړئ؟

| کوم ډول مصارف لومړی تادیه کوم؟ هغه هدف یا موخه څه ده چې زه باید ورته سپما وکړم؟ |
|---|
| |

خپل مصارفو ته یو ځل بیا نظر واچوئ. آیا کوم ډول متغیر مصارف شتون لري؟ دا مصارف کېدی شي مهم وي خو ستاسو د اساسي اړتیاوو په اندازه نه. آیا کولی شئ خپلو هغو موخو یا اهدافو ته نورې موخې یا اهداف هم اضافه کړئ د کومو لپاره چې سپما کوئ؟

| زما متغیر مصارف کوم دي؟ آیا کولی شم خپلې سپما ته نور څه هم اضافه کړم؟ |
|---|
| |

# زما د مالي بنسټونو لاربنود کتاب

په پای کې خپلو هغو مصارفو ته نظر وکړئ چې کولی شئ په تعلیق کې یې واچوئ او یا هم د هغې لپاره کوم بل بدیل پیدا کولی شئ. یاد موارد کوم لومړیتوب نه دی.

| **زما د ټیټي کچې لومړیتوب مصارف کوم دي؟** |
| --- |
| |

## سپما

سپما د یوې قوي مالي طرحې په جوړولو کې مهمه برخه ده، په ځانګړي ډول د بیړنیو حالاتو یا غیر مترقبه مصارفو لپاره سپما. د خپلو هغو موخو لپاره لاندې خالي ځای ډک کړئ، د کومو لپاره چې تاسو سپما کوئ. د مثال په ډول، عاجل فنډ کله چې د موټر، تلفون، کورنیو مصارفو، روغتیایي مصارفو او کور اخیستو لپاره پیسې سپموئ. د دغه لاربنود یا کارخانګی د کتاب په پای کې د موخو د انتخابولو لپاره ګڼ شمېر پاڼې موجودې دي.

| **زما د پیسو له سپمولو موخې** <br>**د څه لپاره سپما کوئ؟ څومره پیسو ته تر څه وخته اړتیا لرئ؟** |
| --- |
| |

که چېرې د خپل ټولو مصارفو د تادیې لپاره پیسې نه لرئ، نو له کومو لارو کولی شې خپل عواید لوړ او یا هم خپل مصارف ټیټ کړې؟

| څنګه کولی شم خپل عواید ډېر یا مصارف کم کړم؟ آیا پدې برخه کې داسې منبع شته چې راسره مرسته وکړي؟ |
| --- |
| |

**یادونه**

## د امریکا په متحده ایالاتو کې بانکدراي




بانکونه او د وجوهو یا اعتباراتو اتحادیي مالي بنسټونه دي. دغه دواړه خپل محصولات او خدمات لري چې کولی شي تاسو سره د خپلو پیسو په مدیریت کې مرسته وکړي. د امریکا متحده ایالات د مالي بنسټونو لپاره جدي مقررات وضع کړي چې په اساس یې د مشتریانو (ستاسو) مصؤنیت یا خوندیتوب رامنځ ته کیږي. ډېری مالي بنسټونو د بیمي تر خدماتو لاندي ستاسو د پیسو ساتلو لپاره خوندي ځایونه دي.

**بانکونه** د فدرال اداري د اماناتو د بیمي د همکاریو (FDIC) لخوا د بیمي تر خدماتو لاندي نیول دي.

لاندي سمبول یا نښه وګورئ:

**د اعتباراتو یا اماناتو اتحادیي** د کریډیټ یا اعتبار د ملي اتحادیي (NCUA) لخوا مدیریت کیږي.

لاندي سمبول یا نښه وګورئ:

**هغه لاملونه څه دي چې له وجې یې خپلي پیسي بانکونو ته سپارئ؟**

- زما پیسي له ورکېدو یا غلا کېدو محفوظي او د بیمي له لاري خوندي دي.
- خپلو پیسو ته لاسرسی لرل آسانه دي.
- د دي مصارف د نورو هغو محصولاتو او خدماتو په پرتله کم دي چې د مالي بیسټونو لخوا تر بیمي لاندي نه وي.
- دا ستاسو سره مرسته کوي چې خپلي پیسي نظارت او مدیریت کړئ.

**بانکي حسابونه**
مالي بنسټونه یا بانکونه مختلف ډول بانکي حسابونه وړاندې کوي. د بانکي حسابونو ترټولو عام ډولونه د سپما حساب او بانکي چکونه دي.

- د سپما حساب په واسطه د هغو پیسو ساتنه کوئ چې غواړئ د راتلونکي لپاره یې تولې کړئ، او معمولاً د دغو پیسو ګټه هم ترلاسه کوئ.
- د بانکي چک حساب ستاسو د ورځنیو مصارفو لپاره استفاده کېږي.


ټول بانکي حسابونه خپلې اکونټ نمبر لري. ستاسو د بانکي حساب شمیره ځانګړې وي او د حساب د څښتن په توګه ستاسو تعین کوي.

**خپل اکونټ نمبر خوندي وساتئ.** تاسو کولی شئ د خپل بانکي حساب ځیني معلومات د معتبرو شرکتونو لکه ستاسو د مستخدم سره شریک کړئ ترڅو وکولی شئ په مستقیم ډول د خپلو معاش د تادیې لپاره ضمینه برابره کړئ. دا کار مصؤن دی ځکه ستاسو مستخدم به ستاسو معلومات ځان سره محرم ساتي. د خپل بانکي حساب په اړه معلومات د هغو کسانو سره مه شریکوئ چې نه یې پېژنئ یا باور ورباندې نه لرئ. که چېرې په دې آند وئ چې بانکي معلومات مو د یوه بې اعتبار شخص سره دي، نو په بیړه خپل بانک یا مالي بنسټ سره په اړیکه کې شئ.

ټولي مالي بنسټونه یا بانکونه خپله ځانګړې شمیره لري چې د تشخیصیه شمیرې په نامه یادېږي. دغه تشخیصیه شمیره شخصي نه ده. مالي بنسټونه خپله تشخیصیه شمیره د خلکو سره شریکوي.


کله چې تاسو یو بانکي حساب پرانیزئ، نو د دې سره سم به تاسو ډېبټ کارت ترلاسه کړئ ترڅو خپلو پیسو ته لاسرسی ولرئ او پیر ورباندې وکړئ. ډېبټ کار د کریډېټ کارت په شان نه دی.

ډېبټ کارت داسې شکل لري:





که چېرې تاسو د بانکي چک اکونټ پرانیزئ، نو پدې صورت کې کېدی شي بانک تاسو ته ځیني چکونه درکړي چې شکل به یې په لاندې ډول وي:

# زما د مالي بنستېونو لاربود کتاب




تاسو کولی شئ له بانکي چک نه په استفادې سره پېر وکړئ یا خلکو ته پیسې تادیه کړئ. د بانکي چک ډکول ځان سره تمرین کړئ. چې دې ته "د بانکي چک لیکل" هم وايي.



**د بانکي حساب معاملات**



کله چې تاسو په خپل بانکي حساب کې پیسې اچوئ، نو دې ته deposit (+) وايي. ستاسو لخوا ټولې اچول شوې پیسې به سمدلاسه د لاسرسي وړ نه وي. د هغې طی مراحل کول ښائي د بانک لپاره څو ورځې وخت ونیسي ترڅو ستاسو ډیپازټ پروسېس کړي.

ځینې هغه طریقې چې په واسطه یې کولی شئ خپل بانکي حساب ته پیسې واچوئ:

- په خپل صورت حساب کې بانکي حساب ته د پیسو اچولو پاڼه ډه کړئ.
- په خپل صورت حساب کې د ټیلر یا نماینده سره له خپل ډبټ کارت څخه استفاده وکړئ.
- له اتومات ټیلر ماشین ((ATM ماشین څخه د استفادې په برخه کې له خپل ډبټ کار څخه استفاده وکړئ.
- خپل مستخدم ته اجازه ورکړئ چې ستاسو تادیات چې د مستقیمې تادیې په نامه یادېږي، ستاسو په حساب کې اضافه کړي.
- که چېرې تاسو په خپل تلفون کې د بانکولۍ سیستم لرئ، نو د خپل بانکي چک د مخې او شا عکس واخلئ.



له خپل بانکي حساب څخه د پیسو ایستلو یا د withdrawal (-) په نامه یادېږي. داډ ترلاسه کړئ چې له خپل بانکي حساب څخه د پیسو ایستلو پرمهال په خپل حساب کې پیسې ولرئ. که چېرې تاسو په خپل حساب کې په کافي اندازه پیسې نه لرئ، نو معامله مه بشپړوئ.

له خپل بانکي حساب څخه د پیسو ایستلو څو طریقې:

- په خپل صورت حساب کې د پیسو د ایستلو پاڼه ډکه کړئ.
- په خپل صورت حساب کې د ټیلر یا نماینده سره له خپل ډبټ کارت څخه استفاده وکړئ.
- په خپل صورت حساب کې له ATM ماشین څخه د استفادې په صورت کې له خپل ډبټ کارت څخه کار واخلئ.
- په پلورنځیو کې د پېر پرمهال له خپل ډبټ کارت یا ATM څخه استفاده وکړئ.
- یو بانکي چک ولیکئ.
- په خپل کمپیوټر یا مبایل تلفون کې چې د آنلاین بانکولۍ اپلیکشن په کې نصب وي، خپل بېلونه په آنلاین ډول په مبایل اپپ

**فیسونه او نور مصارف**

مالي بنسټونه د خدماتو یا محصولاتو د چمتو کولو په بدله کې کولی شي یوه اندازه فیس واخلي. لاندې ځینې عمومي مصارف او له هغې څخه د ځان ساتلو یا د هغې د کمولو طریقې دي:

- اوورډرافټ یا تر اندازه د زیاتو پیسو ایستل هغه څه ته وايي کله چې تاسو د یوې معاملې د ترسره کولو لپاره په خپل حساب کې کافي پیسې و نه لرئ، خو ستاسو مالي بنسټ یا اړونده بانک د فیس په اخیستو سره ستاسو لپاه دغه معامله ترسره کوي.
- د بانکي چک د غوښتنې فیس هغه فیس ته ویل کېږي چې ستاسو بانک یې له تاسو څخه د یاد سهولت د چمتو کولو په بدله کې غواړي.
- د میاشتنې مراقبت فیس د بانکي حساب د پرانیستو سره سم په تاسو پسې چارجېږي. ځینې داسې بانکي حسابونه شته چې د حداقل مقدار پیسو یا بیلانس په درلودلو سره میاشتني مصارف او فیسونه نه لري.
- په بانکي حساب کې د حداقل جبري پیسو مقدار هغو پیسو ته ویل کېږي چې تاسو یې باید په خپل حساب کې ولرئ ترڅو له فیسونو مخنیوی وشي. که چېرې ستاسو په حساب کې له دغه ټاکلي مقدار څخه کمې پیسې موجودې وي، نو په تاسو باندې به یوه اندازه فیس راشي. تاسو کولی شئ له دغو فیسونو څخه په مستقیم ډول خپل د بانکي چک حساب ته د پیسو اچولو یا خپل په حساب کې د حکومتي امتیازاتو د تنظیمولو او یا هم د یوه بې "فیسه"بانکي حساب د پرانیستو له لارې مخنیوی وکړئ.
- د ATM ماشین مصارف په تاسو باندې هغه وخت راځي کله چې تاسو له یاد ماشین څخه استفاده کوئ خو د خپل اړونده بانک یا مالي بنسټ لخوا د پیسو د ایستلو یا خپل صورت حساب د کتلو اجازه و نه لرئ.
- د پیسو غوښتل یا مني آرډرز د پیسو د ورکړې یو ډول دی چې معمولاً د هغو اشخاصو لخوا استفاده کېږي چې د بانکي چک حساب ته لاسرسی نه لري. د پیسو غوښتنه یا مني آرډرز هغه پېر ته ویل کېږي چې په وړیا ډول ستاسو د مالي بنسټ یا بانک لخوا کېږي.

# زما د مالي بنسټونو لارښود کتاب

- د پیسو د انتقال فیس هغه مصارفو ته ویل کېږي چې په نړیواله کچه د پیسو د انتقال په موخه د نړیوالو مالي بنسټونو لخوا اخیستل کېږي. کله چې د ځان لپاره مالي بنسټ یا بانک انتخابوئ، نو دا مهمه ده چې د هغې فیسونه د نورو هغو سره مقایسه کړئ، ځکه دغه فیسونه کېدی شي د پوره تفاوت ولري.
- د بېرته مسترېدو چک هغه چک ته ویل کېږي چې په بانکي چک باندې د مندرجه مبلغ د پوره کولو په موخه په حساب کې د پیسو د نه شتون له امله د طی مراحل کولو وړ نه وي.
- نور فیسونه

---

---

---

**ځان لپاره یو مناسب مالي بنسټ یا بانک غوره کړئ.**
ګڼ شمالي مالي بنسټونه یا بانکونه شتون لري چې کولی شئ ځان لپاره یو غوره کړئ. د پیل لپاره ځینې نظریات چې باید په پام کې ونیول شي:

- له خپل د اعتماد وړ ملګري یا د کورنۍ له غړي څخه پوښتنه وکړئ چې له کوم بانک څخه استاده کوي او لامل یې څه دی.
- د خپلې سیمې بانک ته چې د څانګو په نوم یادېږي مراجعه وکړئ.
- پدې اړه د خلکو نظریات واخلئ.

**د خپلې خوښې وړ مالي بنسټ یا بانک ته مراجعه وکړئ.**
کله چې له مالي بنسټ یا بانک څخه لیدنه کوئ، دا مهمه ده چې ځان سره یاداشت ولرئ چې څه باید ووایئ او د څه شي غوښتنه باید وکړئ. په راتلونکي پاڼه کې یو څو ساده پوښتنې ترتیب شوي دي.

که چېرې تاسو د بانکي حساب د پرانیستو لپاره چمتو یاست، نو تاسو باید اړونده مالي بنسټ یا بانک ته د ځان په اړه معلومات ورکړئ ترڅو هغو وکولی شي ستاسو غوښتنلیک طی مراحل کړي. لاندې د ځینو هغو معلوماتو په اړه مثالونه موجود دي چې کېدی شي له تاسو څخه وغوښتل شي. د خپل مالي بنسټ یا بانک سره په مشورې ځان ډاډه کړئ چې ټول د اړتیا وړ معلومات لرئ.

- ستاسو نوم
- د زېږون نېټه
- آدرس
- د اړیکو معلومات
- د ټولنیز امنیت شمېره (SSN) یا د مالیاتو د تشخیص شمېره (ITIN)
- د شخصي هویت اړونده معلومات – پوښتنه وکړئ چې د کوم ډول شخصي معلوماتو چمتو کولو ته اړتیا لرئ، ځکه ټول مالي بنسټونه یا بانکونه یو ډول معلومات نه غواړي.
- د آدرس پېژندنه - هغه آدرس چې تاسو دمګړی په کې استوګنه کوئ یا ستاسو د هغه استوګنځي آدرس د اوسنۍ اجاره دارئ کاپي چې دمګړئ په کې استوګنه کوئ.
- هغه پیسې چې په لومړي ځل ستاسو په نوي پرانیستل شوي بانکي حساب کې باید واچول شي

# زما د مالي بنسټونو لاربنود کتاب

| د مالي بنسټ یا بانک د انتخابولو پرمهال پوښتنې | ځوابونه |
|---|---|
| آیا ماسره په محترمانه ډول او درناوي سره چلند کیږي؟ | |
| آیا مالي بنسټونه یا بانکونه د هغو کسانو د اړتیاوو په اړه معلومات لري چې په وروستیو کې نوي د امریکا متحده ایالاتو ته راغلي دي؟ | |
| آیا زده هغه اسناد لرم چې د بانکي حساب پرانیستو لپاره اړین دي؟ که چېرې دغه معلومات و نه لرم، له کومه ځایه کولی شم د یادو اسنادو د چمتو کولو په برخه کې مرسته ترلاسه کړم؟ | |
| آیا کولی شم پخپله ژبه یا نورو هغو طریقو سره چې زما لپاره د لاسرسي وړ دي، معلومات ترلاسه کړم؟ | |
| آیا کولی شم د خپل بانکي حساب په اړه معلوماتو ته لاسرسی ولرم؟ کله او څه وخت به زه یادو معلوماتو ته اړتیا لرم؟ | |
| آیا مالي بنسټونه د FDIC (بانکونو) یا NCUA (د اعتباراتو د اتحادیې) لخوا د بیمې تر خدماتو لاندې دي؟ | |
| د هغه بانکي حساب فیسونه چې زه غواړم پرا یې نیزم، څومره دي؟ | |
| آیا د بانکونو نمایندگۍ زما د استوګنې، کار او ښوونځي ته نیژدې دي؟ | |
| آیا مالي بنسټونه زما لپاره په مناسبو وختونو کې برانیستي وي؟ | |
| آیا زه به په خپل بانکي حساب کې سود یا ګټه ترلاسه کړم؟ د سود مقدار څومره دی؟ | |
| آیا مالي بنسټونه یا بانکونه د اعتبار جوړولو محصولات لري؟ یا آیا هغوی وړیا د اعتبار امتیازات ورکوي؟ | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |

| د بانکي حساب د پرانيستي لپاره اړين اسناد |
| --- |
| |

## هغه معاملات چې په نغدو پیسو نه کیږي



بې نغدینې معاملات فزیکي پیسو (ډالرو) ته اړتیا نه لري. دا هغه ډول مالي معاملات دي چې تادیات یې د کریډیټ کارت، ډیبیټ کارت، د مبایل اپلیکشن، الیکټرونیکي ډول د پیسو د انتقال، بانک، ډیجیټلي والټونو له لارې ترسره کیږي. د دا ډول معامالاتو له لارې کولی شئ له نغدو پیسو، چک، یا د تادیاتو له نورو فزیکي ډولونو پرته تادیه وکړئ. دا ډول تادیات له خپل تلفون یا کمپیوټر نه په استفادې سره په الیکټرونیکي ډول ترسره کیږي. د تادیاتو دا ډول په امریکا کې ډیر عام دی.

د بې نغدینې معاملاتو بېلګې په لاندې ډول دي:

- مخامخ تادیه (چې د یو نه بل ته یا P2P په نامه هم یادیږي)، د تادیاتو هغه ډول ته ویل کیږي چې په واسطه یې کولی شئ له یوه بانکي حساب یا کریډیټ کارت څخه پیسي بل شخص ته واستوئ. مخکې له دې چې دا ډول تادیات ترسره کړئ، باید د هغه د تلفون یا ایمیل آدرس نه په استفادې سره د هغه شخص تائیدي وکړئ چې غواړئ پیسي ورکړئ. هیڅکله دا ډول معامله مه ترسره کوئ، مګر په هغه صورت کې چې مقابل لوری وپیژنئ. د P2P یا مخامخ اپلیکشنونو په عمومي ډولونو کې Zelle، PayPal، CashApp، Venmo او Google Pay شامليږي.
- له شخص نه تجارت ته یا پرسن ټو بزنس تادیات تاسو ته دا فرصت چمتو کوي چې له یوه شرکت څخه په حضوري او آنلاین ډول توکي او خدمات وپیرئ. د تادیاتو ځینې عامې طریقې د کریډیټ کارت یا ډیبیټ کارت، د مبایل اپلیکشن له لارې تادیات لکه د Apple Pay یا Google Pay له لارې تادیات ترسره کول دي.
- له تجارت نه شخص ته تادیات (چې د B2P په نامه هم یادیږي) – د تادیاتو دغه ډول تاسو ته دا فرصت چمتو کوي چې شخص ته د شرکت یا حکومتي اداري لخوا تادیه وکړئ. د مثال په ډول مستخدم یا کار ګومارونکی د مستقیم تادیې له لارې خپل کارکوونکي ته معاش ورکوي، یا د مالي بنسټونو ترمنځ د امتیازاتو لپاره د الیکټرونیکي تادیې (EBT) یا اتومیټید کلیرنګ هاؤس (ACH) له لارې د دولتي امتیازاتو لپاره تادیه کول.

**يادونه**

## د کرېډېټ يا اعتبار په اړه درک



**کرېډېټ يا اعتبار څه ته وايي؟**
کرېډېټ هغې وړتيا ته ويل کيږي چې د پېر ترسره کولو يا د پور د بېرته اداکولو په اړه د تعهد ورکولو په صورت کې د پيسو د قرضولو لپاره استفاده کيږي. کرېډېټ د ډېبېټ په شان نه دی.

د باور يا اعتماد په اساس د پيسو له ورکړې مخکې د يو څه د ترلاسه کولو توان يا وړتيا ته ډېبېټ ويل کيږي. چې همدې ته اعتبار ويل کيږي. يوه طريقه چې يوه شئ څوک کېدی شي تاسو لپاره پور کړې پيسې بېرته تاديه کړي، د اعتبار د راپور لوستل او د کرېډېټونو ترلاسه کولو دي.

په خپلو اعتباري فعاليتونو، اعتباري رپوټونو او اعتباري نمراتو باندې پوهېدل کولی شي تاسو سره د يوه مثبت اعتبار د جوړولو په اړه د پرېکړو په ترسره کولو کې مرسته وکړي.

# زما د مالي بنسټونو لاربنود کتاب

**د کرېډيټ يا اعتبار اړونده فعاليت**

[د اعتبار لوړولو فعاليت](#) هغه معلومات دي چې د اعتبار چمتو کوني د شرکتونو لخوا راټولېږي او ستاسو د بېلونو د تاديې او ډېبيټ د مديريت د څرنګوالي په اړه معلومات درکوي. د امريکا په متحده ايالاتو کې کڼ شمېر شرکتونه دا ډول معلومات راټولوي مګر درې لوی شرکتونه چې د خپلو مشتريانو د اعتبار په اړه رپوټونه چمتو کوي، په لاندې ډول دي:


EQUIFAX · experian · TransUnion

**د کرېډيټ په اړه راپور**



[د اعتبار راپور يا Credit Report](#) د هغو اعتبار اړونده فعاليتونه خلاصه ده چې په راټول شوي او په اړه يې راپور ورکړل شوی دی. له دغو درې واړو شرکتونو څخه هر يو يې د خپل راپور خلاصه جوړوي. تاسو او معتبر شرکتونه کولی شئ د خپل اعتبار په اړه د راپور غوښتنه وکړئ.

**د کرېډيټ نمري يا امتيازات**



[د اعتبار نمری يا کرېډټ سکور](#) يوه داسې رياضيکي فورموله ده چې ياد درې واړه شرکتونه ترې استفاده کوي. ستاسو د اعتباراتو په راپور کې مندرجه معلومات ارزول شوي دي او پايله يې يو 3-رقميزه عدد دی چې معمولاً د 300 او 850 تر منځ وي.

## د خپلو اعتباراتو په اړه د چمتو شوي راپور کتنه

**څوک کولی شي ستاسو د اعتباراتو په اړه چمتو شوی راپور وګوري؟**
هر سړی نه شي کولی ستاسو د اعتباراتو په اړه چمتو شوی راپور وګوري. يوازې هغه سوداګريز شرکتونه کولی شي ستاسو د اجازې په صورت کې ستاسو د اعتباري راپور غوښتنه وکړي چې د ځانګړيو او قانوني موخو لپاره يې استفاده کوي. چې دې ته په بانکي قاموس کې "اجازوي موخه" ويل کېږي.

لاندې ځينې هغه مثالونه چمتو شوي دي چې په اساس يې کولی شئ مشخصه کړئ چې کوم کسان کولی شي ستاسو څخه ستاسو د اعتباراتو په اړه د چمتو شوي راپور غوښتنه وکړي.

- [قرضه ورکوونکي](#) مراجع، مالي بنسټونه، او د اعتباراتو مراجع
- اپارټمان، د کور مالک، د کرايي تعئينولو شرکتونه
- د ښاري خدماتو او تلفوني اړيکو په شان خدمات
- هغه مستخدم چې ستاسو په دنده پورې تړاو لري
- بازار موندنه او د اعتبار او بيمه يي خدماتو د عرضې کولو شرکتونه
- تاسو!

"ځان ويستل": تاسو کولی شئ 8688-567-888 شمېرې ته د زنګ وهلو له لارې غوښتنه وکړئ چې نوم او آدرس مو له مخکې چمتو شوې لېست څخه حذف شي.
او يا هم دا کار په آنلاين ډول په [www.optoutprescreen.com](http://www.optoutprescreen.com) کې ترسره کړئ

**یادونې:**

یوازینی مرجع چې د فدرال د قانون په اساس تاسو ته د خپلو اعتباراتو د راپور وړیا کاپي چمتو کولی شي، www.AnnualCreditReport.com ده. زموږ وېب پاڼه په لاندې ډول ده:




که چېرې د ټولنیز امنیت شمېره (SSN) لرئ، کولی شئ د www.AnnualCreditReport.com. له لارې په آنلاین ډول له درې واړو یادو شرکتونو څخه د خپلو اعتباراتو د راپور غوښتنه وکړئ.

که چېرې تاسو د مالیاتو د تشخیص شمېره (ITIN) لرئ، نو باید د خپلو اعتباراتو د راپور د وړیا کاپي ترلاسه کولو لپاره یو له دریو هغو شرکتونو ته خپله کتبي غوښتنه وړاندې کړئ چې د اشخاصو د اعتباراتو په اړه د راپور ورکونې مسؤلیت لري. هغه فورمه چې په واسطه يې کولی شي د خپلو اعتباراتو د راپور غوښتنه وکړئ، د دغه لارښود په پای کې چمتو شوې ده.



## د خپلو اعتباراتو په اړه د راپور لوستل

**ستاسو د اعتباراتو په راپور کې څه لیکلي دي؟**

- شخصي معلومات – نوم، آدرس، د تلفون شمېره، د ټولنیز امنیت شمېره، د زېږون نېټه، مستخدم
- بانکي حسابونه
  - غیر منطبق – ستاسو د اعتباراتو د راپور په اړه منفي معلومات
  - د قناعت وړ – ستاسو د اعتباراتو د راپور په اړه مثبت معلومات
- په بانکي سیستم کې برشکسته کېدل – هغه قانوني اقدام چې له مخې یې یو شخص یا شرکت نه شي کولی ډېبټونه بیا تادیه کړي
- پوښتنې ("پولز یا ویستنې")
  - سطحي پوښتنې – کله چې ستاسو لخوا د اعتباراتو د راپور غوښتنه کېږي، نو یو شرکت چې په تاسو پورې تړاو لري ستاسو د حساب، دندې ته د غوښتنې پرمهال د مستخدم یا د بازار موندې په برخه کې د نظارت کوونکو شرکتونو بیاکتنه کوي. دا کار به د اعتباراتو په برخه کې ستاسو په نمرو باندې اغېز **و نه** کړي.
  - جدي پوښتنې – کله چې د اعتباراتو راپور ته د یوه کرېډېټ اپلیکشن په حیث غوښتنه کېږي. دا به د اعتباراتو په برخه کې ستاسو په نمرو باندې اغېز **ولري**. که چېرې تاسو د پوښتنو په اړه اعتراض لرئ، نو د **هغه** شرکت سره په اړیکه کې شئ چې ستاسو د اعتباراتو په راپور کې له مندرجه معلوماتو نه په استفادې سره یې ستاسو د کرېډېټ کتنه ترسره کړې ده.

**ستاسو د کرېډېټ یا اعتباراتو په راپور کې کوم شی کم دی؟**

- ستاسو د عمر، نژاد، جنسیت، کډوالی یا مدني حالت په اړه ځانګړي معلومات
- د بانکي حساب (د چک او سپما) په اړه معلومات
- عاید
- د کرایې*، ښاري خدماتو، تلفون، کېبل او داسې نورو مصارفو د تادیاتو په اړه مثبت معلومات. دغه معلومات یوازې په هغه صورت کې ستاسو د کرېډېټ یا اعتباراتو په راپور کې ښکاري چې په اړه یې وروسته راپور ورکړل شوی وي.
  *ځینې د ځمکې مالکین کولی شي ستاسو د کرېډېټ یا اعتبار د ډېرولو په موخه ستاسو د کرایې د په وخت تادیې په اړه راپور ورکړي
- تادیه شوی طبي ډېبټ – د نه تادیه شویو طبي ډېبټونو په اړه د 12 میاشتو لپاره راپور ور نه کړل شي
- تر 500$ کم نه تادیه شوی طبي ډېبټ

---

---

---

---

---

# زما د مالي بنسټونو لاربنود كتاب

**File Number:** 1234567890 **Date:** 9/1/2023

**PERSONAL INFORMATION**
Length of credit history: 7 years, 9 months

Name: Cathy Consumer, Cathy Lynn Consumer, CL Consumer, Kathy Consumer

Date of Birth: 8/2/1989

Social security number: XXX-XX-1234

Current Address:
123 West Main Street, Anywhere, WA Date reported: 1/1/2020

Other Address:
123 W Main St., Anywhere, WA Date reported: 3/4/2018

Phone Number: (425) 123-4567 (206) 123-4567 (123) 456-7890

Employer: ABC Transportation

**ADVERSE ACCOUNTS**

**Main Street Bank ******328473897**
PO Box XX Bellevue, WA
888) 999-9999

Date opened 1/2020
Account type: Revolving
Balance $890
Pay status: Charge off by account provider

Responsibility: Joint Account
Loan Type: Credit Card
Date Updated: 8/20232
Estimated month and year this item will be removed 4/2030

Payment history

| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun | Jul | Aug | Sep | Oct | Nov | Dec |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2023 | ok | ok | ok | 30 | 60 | 90 | x | c/o | | | | |
| 2022 | ok | ok | 30 | ok | ok | ok | ok | ok | 30 | ok | ok | ok |
| 2021 | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | 30 |

**XYX Collection ******327**
PO Box YY Everett, WA
(888) 888-8888

Date opened 6/2017

Account type: Open Account
Balance $204
Pay status: Placed for Collection
Original Creditor: Comcast Cable

Responsibility: Individual Account
Loan Type: Collection Agency/Attorney
Date Updated: 11/2022
Estimated month and year this item will be removed 12/2028

Payment history

| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun | Jul | Aug | Sep | Oct | Nov | Dec |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2023 | x | x | x | x | x | x | x | x | | | | |
| 2022 | 60 | 90 | 120 | col | x | x | x | x | x | x | x | x |
| 2021 | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | 30 |

## SATISFACTORY ACCOUNTS

**Auto Financing Company ***9234**
PO Box AA Somerset, WA
(888) 000-0000

Monthly payment $387
Responsibility: Joint Account
Loan Type: Automobile
Pay Status: Current, Paid or Paying as Agreed

Date Opened: 5/12/2020
Account Type: Installment
Terms: $387 per month for 38 months
Balance: $5,710

| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun | Jul | Aug | Sep | Oct | Nov | Dec |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2023 | $5710 | $5323 | $4936 | $4549 | $4162 | $3775 | $3388 | $3001 | | | | |
| Paid | $387 | $387 | $387 | $387 | $387 | $387 | $387 | $387 | | | | |
| Rating | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | | | | |
| 2022 | | | | | | | | | | | | |
| Balance | $9920 | $9560 | $9210 | $8860 | $8510 | $8160 | $7810 | $7460 | $7110 | $6760 | $6410 | $6060 |
| Paid | $387 | $387 | $387 | $387 | $387 | $387 | $387 | $387 | $387 | $387 | $38 | $387 |
| Rating | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok |

**US Credit Union ***4023482**
PO Box 000 Seattle, WA (888) 777-7777

Date opened 11/2015
Account type: Revolving
Current Balance $5,109
Last payment made 3/2022
Pay status: Paid or Paying as Agreed

Responsibility: Individual Account
Loan Type: Credit Card
Date Updated: 1/12/2023
High Balance: $5,109
Credit Limit: $5,000

Payment history

| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun | Jul | Aug | Sep | Oct | Nov | Dec |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2023 | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | | | | |
| 2022 | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok |
| 2021 | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok | ok |

## INQUIRIES

Regular Inquiries (Hard Inquiries)
Inquiries that may impact your credit score. These are inquiries made by companies with whom you have applied for a loan or credit. These inquiries will remain on your credit file for up to 2 years.

Account Review Inquiries and Promotional Inquiries (Soft Inquiries)
Inquiries that do not impact your credit score. These are inquiries from companies making promotional offers of credit, periodic account reviews by an existing creditor or your own requests to check your credit file. They may remain on your file for up to 2 years.

**Contact the credit reporting company** - to report an error or for general information. You will be asked to reference your report number.

☐ By phone ☐ By mail ☐ Online



## د کرېډېټ په نمراتو باندې پوهېدل

د کرېډېټ نمرات یو 3 رقمیزه عدد دی چې ستاسو د اعتباراتو په راپورونو کې له مندرجه معلوماتو نه په استفادې سره محاسبه شوی دی. د کرېډېټ یا اعتبار نمرې د هغو تادیاتو په اړه وړاندوینه کوي چې کېدی شي تاسو یې د توکو او خدماتو د پېر یا هم د قرضې د بېرته ورکړې په موخه تادیه کړئ.

د یوه په اندازه د کرېډېټ یا اعتبار نمره شتون نه لري. تاسو کولی شئ تر 100 ډېرې مختلفې نمرې واخلئ، دا ځکه چې ګڼ شمېر شرکتونه په مختلفو فورمولونو سره د کرېډېټ د نمراتو محاسبه کوي. ډېری د کرېډېټ نمبر له 300 – 850 پورې دي. هرڅومره چې نمره لوړه وي، په هماغه اندازه ستاسو لپاره بهتره ده.

د کرېډېټ دوې ترټولو لوړې نمرې FICO® او Vantage® دي. هغوی د نمراتو په ورکولو کې له مختلفو مېتودونو څخه استفاده کوي.

ځیني عام فکتورونه چې د FICO® او Vantage® دواړو په نمراتو اغېز لري، په لاندې ډول دي:

- ☐ **په وخت سره د تادیاتو ترسره کول**
  خپلې قرضې، کرېډېټ کارتونه، د ښاري خدماتو بېلونه، کرایه او داسې نور په وخت سره ادا کړئ. که چېرې تاسو د یادو مصارفو په تادیه کې ستونزه لرئ، نو د قرض ورکوونکې مرجع یا شرکت سره په اړیکه کې شئ او هغوی ته پدې اړه خبر ورکړئ. ځینې وخت د تادیاتو تنظیم کېدی شي مرستندویه واقع شي. ځان ته نیژدې د هغو بنسټونو سره په اړیکه کې شئ چې، کولی شي تاسو سره په مالي همکاریو کې مرسته وکړي.

- ☐ **د کارول شوي کریډیټ مقدار ټیټ وساتئ.**
  دې ته همدرانګه له کرېډېټ څخه استفاده هم وایي. هڅه وکړئ چې په خپلو کرېډېټ کارتونو کې د ټاکلي مقدار 30% وساتئ. د مثال په ډول، که چېرې تاسو د 500$ په ارزښت کرېډېټ کارټ لرئ، هڅه وکړئ چې بیلانس یا موازنه مو تر 150$ ټیټه وساتئ:

  | | |
  |---|---|
  | | 500 $ |
  | x | .30 |
  | | 150 $ |

  تاسو اړتیا نه لرئ چې د کرېډېټ یا اعتبار د جوړولو په موخه په خپل کرېډېټ کې بیلانس وساتئ. په حقیقت کې دا یو غوره کار دی چې خپل کرېډېټ کارټ هره میاشت 0$ کړئ، ترڅو په ډیبیټ باندې له سود څخه مخنیوی وشي او خپل ډیبیټ تنظیم کړئ.

- ☐ **همېشه په خپل حساب کې ګڼ شمېر کرېډېټونه ولرئ**
  د کرېډېټ یا اعتبار دوه مهم ډوله موجود دي چې عبارت دي له: "installment" او "revolving" څخه.
  - ○ Installment د ځانګړي مقدار یو ډول قرضه ده چې په ځانګړې موده کې هره میاشت بېرته تادیه کېږي. د installment قرضې غوره مثالونه عبارت دي له هغې قرضې څخه چې د موټر، کور(، مارګېج)، او ښوونځي لپاره اخیستل کېږي.
  - ○ Revolving قرضه یو ډول د متحول مبلغ لرونکې قرضه ده چې په واسطه یې تاسو کولی شئ د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره له بانکه پیسې قرض کړئ. کرېډېټ کارتونه او شخصي قرضې د revolving قرضې لپاره ښه مثالونه کېدی شي.

- ☐ **یوازې هغه کرېډېټ حساب پرانیزئ چې اړتیا ورته لرئ**
  یوازې د هغه کرېډېټ لپاره غوښتنه وکړئ چې اړتیا ورته لرئ. د کرېډېټ یا اعتباري نمراتو ورکولو فورموله کرېډېټ ته ستاسو د اړتیاوو د سیګنال په حیث ستاسو د ورستیو کرېډېټ فعالیتونه په پام کې نیسي. که چېرې تاسو په لنډه موده کې ګڼ شمېر کرېډېټونو یا اعتباراتو ته غوښتنه کوئ، نو کېدی شي په دغه صورت کې قرض ورکوونکې مرجع ته دا ښکاره شي چې ستاسو مالي وضعیت یا صورت حساب په منفي ډول تغیر کړی.

- ☐ **د روڼتیا یا شفافیت لپاره هڅه وکړئ او پدې برخه کې صادق و اوسئ**
دا خپل عادت وګرځوئ چې خپل د کریډېټ یا اعتبار راپور په کال کې حداقل یو ځل وګورئ او هر ډول اشتباهات اصلاح کړئ.

- ☐ **د کریډېټ یا اعتبار اخیستل یا رامنځ ته کول وخت نیسي**
د کریډېټ نمرې په تېره کې ستاسو فعالیتونو ته په کتو سره ورکول کېږي. چې هرڅومره ډېر فعالیت ولرئ، په هماغه اندازه کریډېټ یا اعتبار ته د زیان رسېدو د ګواښ په اړه ډېر معلومات موجود وي. که چېرې تاسو د کریډېټ یا اعتبار د نه شتون سره پیل کوئ، نو دا به له 3-6 میاشتو پورې وخت ونیسي چې یوه د کریډېټ یا اعتبار جوړولو نمره واخلئ.

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

## د غوره کرېډېټ یا اعتبار جوړول یا پایداره ساتل

که چېرې تاسو په دې وروستیو کې د امریکا متحده ایالاتو ته راغلي یاست، نو کېدی شي تراوسه د خپلو اعتباراتو په اړه راپور یا د کرېډېټ نمرات و نه لرئ. که چېرې تاسو کومه د ټولنیز امنیت شمېره و نه لرئ، نو د کرېډېټ یا اعتبار جوړول به ستاسو لپاره ستونزمن وي. ځینې داسې مالي بنسټونه شته چې د بانکي حساب د پرانیستو او له کرېډېټي محصولاتو څخه د استفادې لپاره فردي تشخیصیه مالیاتي شمېره (ITINs) قبلوي.

د بانکي بنسټ د انتخابولو لپاره یو ځل بیا خپل نوټ یا یاداشت ته وګورئ. آیا ستاسو مالي بنسټ داسې کوم محصول لري چې وکولی شي تاسو سره د اعتبار په جوړولو کې مرسته وکړي؟

| زما د مالي بنسټ یا بانک لخوا عرضه شوي د اعتبار جوړوني محصولات |
| --- |
| |

| زه کوم ډول بانکي حسابونه لرم چې کولی شي ماسره د کرېډېټ یا اعتبار په جوړولو کې مرسته وکړي؟ |
| --- |
| |

# زما د مالي بنسټونو لاربنود کتاب

| **د غوره کرېډېټ یا اعتبار د جوړولو او پایداره ساتلو لپاره زما طرحه یا پلان:** |
| --- |
| |

**د خپلو نمراتو یوه کاپي ځان سره واخلئ**

کله چې تاسو له www.AnnualCreditReport.com څخه د خپلو اعتباراتو د راپور غوښتنه کوئ، نو هغوی به کومه نمره ور اضافه نه کړي. مخکې له دې چې یوه شئ آیا ستاسو مالي بنسټ د خپلو خدماتو د یوې برخې په حیث کومه وړیا د کرېډېټ یا اعتبار نمره ورکوي، د خپل مالي بنسټ سره په اړیکه کې شئ.

تاسو کولی شئ د خپل کرېډېټ د نمراتو راپور له ګڼ شمېر منابعو څخه ترلاسه کړئ، لکه:

- مالي بنسټونه – په ځینو بانکونو، د کرېډېټ یا اعتباراتو په اتحادیو او د کرېډېټ کارت په شرکتونو کې وړیا خدمات.
- د کرېډېټ یا اعتبار په برخه کې غیر انتفاعي د مشورې ورکونې مراجع – د مالي ځارنې، مشورې ورکولو او تعلیم په برخه کې وړیا خدمات عرضه کوي
- د کرېډېټ یا اعتبار د ورکړې مراجع – د خپلو نمراتو د اخیستو په بدله کې فیس
- شخصي مالي وېب پاڼې – ستاسو له شخصي معلوماتو نه په استفادې سره کرېډېټ کارت او نور خدمات عرضه کوي چې کېدی شي فیس هم ولري

__________________________________________________________________________________

__________________________________________________________________________________

__________________________________________________________________________________

__________________________________________________________________________________

__________________________________________________________________________________

# زما د مالي بنسټونو لاربنود کتاب

## د خپل کرېډېټ یا اعتبار ساتل

د کرېډېټ یا اعتبار کنګلېدل او درغلي کېدی شي د دې لامل شي چې هر سړی خپل د کرېډېټ راپور ته له لاسرسي څخه محروم کړي. همدارنګه پدې سره تاسو کولی شئ خپل شخصي معلومات له غلا کېدو یا د کارت د ورکېدو په صورت کې له خپلو شخصي معلوماتو څخه د بل چا لخوا د استفاده کېدو مخه ونیسئ.

**د درغلیو په اړه خبرداری**

- اعتبار ورکوونکي مراجع باید ستاسو د هوېت ساتنې په موخه اضافي اقدامات ترسره کړي
- د کرېډېټ یا اعتباراتو په اړه د راپور چمتو کولو شرکتونه باید یو بل ته پدې اړه خبر ورکړي
- ابتدائي (1 کال) یا غځول شوی (2 کاله)

**د امنیت کنګلېدل**

- د کرېډېټ یا اعتبار ورکولو په برخه کې راتلونکي شرکتونه ستاسو د کرېډېټ یا اعتبار دوسیې ته له لاسرسي څخه محروموي
- د کرېډېټ یا اعتبار ورکوني په درې واړو شرکتونو کې ستاسو د کرېډېټ یا اعتبار په اړه سوابق کنګل او له کنګل څخه آزادوي
- د کرېډېټ د بېرته خلاصولو لپاره کېدی شي د ټولنیز امنیت شمېرې (PIN) ته اړتیا وي

د کرېډېټ یا اعتبار ورکولو د هر شرکت سره اړیکه ونیسئ ترڅو د درغلیو په اړه خبرداری اضافه شي یا ستاسو د کرېډېټ یا اعتبار دوسیې د کنګل کولو په موخه "freeze" اضافه کړي.


| **Equifax** | **Experian** | **TransUnion** |
|---|---|---|
| (800) 685-1111 | (888) 397-3742 | (888) 909-8872 |
| پوستي بکس: 740256 | پوستي بکس: 9554 | پوستي بکس: 2000 |
| Atlanta, GA 30374 | Allen, TX 75013 | Chester, PA 19016 |

**د شخصي هویت غلا** هغه څه ته ویل کیږي کله چې یو شخص ستاسو له اجازې پرته ستاسو شخصي معلومات استفاده کوي یا یې غلا کوي. که چېرې پدې باور یاست چې شخصي معلومات مو غلا شوي، د فدرال اداري په تجارتي کمېټه کې د www.identitytheft.org له لارې راپور ثبت او پدې اړه د سیمې پولیسو ته خبر ورکړئ.

**یادونه**

# زما د مالي بنسټونو لارښود کتاب

## د پیسو د سپما په برخه کې موخې یا اهداف



| زما د سپما موخې یا اهداف |
|---|
| |

| ولې دغه موخه زما لپاره مهمه ده؟ |
|---|
| |

| په وخت سره | اړونده | ترلاسه کېدونکی | د حساب وړ | ځانګړی |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |

- **ځانګړې:** ستاسو موخې یا اهداف باید روښانه او داسې وي چې غواړئ څه ترلاسه کړئ.
- **د محاسبې وړ:** تاسو باید وکولی شئ خپلو موخو ته د رسېدو په اړه نظارت او اندازه ګیري وکړئ.
- **ترلاسه کېدونکي:** ستاسو اهداف باید منطقي او ممکن وي.
- **اړونده:** ستاسو اهداف باید ستاسو د ارزښتونو او لومړیتوبونو سره مناسب وي.
- **زماني محدوده:** ستاسو اهداف باید په یوه ټاکلې زمان کې د لاسرسي وړ وي.

**د عوایدو او مصارفو نظارت کوونکې مراجع**

| **میاشتنی عواید (+)** | **میاشتني مصارف (-)** |
|---|---|
| ______________ | ______________ |
| ______________ | ______________ |
| ______________ | ______________ |
| ______________ | ______________ |
| ______________ | ______________ |
| ______________ | ______________ |
| ______________ | ______________ |
| ______________ | ______________ |
| ______________ | ______________ |
| ______________ | ______________ |
| ______________ | ______________ |
| ______________ | ______________ |
| ______________ | ______________ |

**مجموعي مقدار** ______________ **مجموع** ____

| **د عوایدو د زیاتولو په اړه نظریات:** | **د عوایدو د کمولو په اړه نظریات:** |
|---|---|
| ______________ | ______________ |
| ______________ | ______________ |
| ______________ | ______________ |

## د پیسو د مدیریت په برخه کې مروجه اصطلاحات یا تعریفونه



**اساسي یا اولیه اړتیاوې** – لکه خواړه، اوبه، سرپناه، جامې او روغتیاپالنه چې د بشر د نجات او هوساینې لپاره اړین دي.

**بودجه** – په یوه ځانګړې موده یا زماني محدوده کې د خپلو عوایدو او مصارفو د مدیریت کولو طرحه.

**عاجل بودجه** – هغه مقدار پیسې چې د غیر مترقبه مصارفو یا غیرمترقبه حوادثو لپاره ساتل کیږي.

**مصارف** – هغه مقدار پیسې چې تاسو یې د توکو، خدماتو یا بیلونو د تادیې لپاره مصروفوئ.

**ثابت مصارف** – هغه مصارف چې هره میاشت یو رقم وي، لکه د کور کرایه یا د موټر تادیات.

**غیر ثابت مصارف** – هغه مصارف چې کېدی شي هر میاشت متفاوت وي او معمولاً د اساسي اړتیاوو د پوره کولو په موخه ستاسو د لوړې کچې په لومړیتوبونو کې نه وي.

**هدف** – هغه څه چې تاسو غواړئ ورته ورسیږئ یا پوره یې کړئ.

**د لوړې کچې د لومړیتوبونو مصارف** – هغه مصارف چې د اساسي اړتیاوو د پوره کولو په موخه د یوه خورا مهم شي لپاره کیږي، لکه د سرپناه، خوړو، ترانسپورټ، روغتیاپالنې، او ښاري خدماتو د بیلونو تادیه کول.

**عایدات** – هغه پیسې چې د معاش، پانګونې یا نورو منابعو یې ترلاسه کوئ.

**عامه مرستې** – ستاسو د اساسي اړتیاوو لکه غذا، سرپناه او جامو چمتو کولو په برخه کې د حکومت لخوا مالي ملاتړ.

**سپما** – هغه پیسې چې د راتلونکې اړتیاوو یا موخو لپاره ساتل کیږي.

**یا منطقي موخې** – د اهدافو یا موخو هغه شکل یا طریقه چې تاسو سره د خپلې خوښې وړ څیز په ترلاسه کولو کې مرسته کوي. چې پدې کې 5 لاندې برخې شاملې دي:

- **ځانګړې:** ستاسو موخې یا اهداف باید روښانه او داسې وي چې غواړئ څه ترلاسه کړئ.
- **د محاسبې وړ:** تاسو باید وکولی شئ خپلو موخو ته د رسېدو په اړه نظارت او اندازه ګیري وکړئ.
- **ترلاسه کېدونکې:** ستاسو اهداف باید منطقي او ممکن وي.
- **اړونده:** ستاسو اهداف باید ستاسو د ارزښتونو او لومړیتوبونو سره مناسب وي.
- **زماني محدوده:** ستاسو اهداف باید په یوه ټاکلې زمان کې د لاسرسي وړ وي.

**څارنه یا نظارت** – د بودجې په جوړولو کې د مرستې په موخه د عوایدو او مصارفو ارزول او مستند کول.

**ارزښتونه** – ځان لپاره د یوه مهم او ستونزمن شي په اړه د شخص باور او اعتقاد ته ویل کیږي.

**غیر ثابت مصارف** – هغه مصارف چې هره میاشت یې مقدار متغیر وي وي، لکه د کور سودا او د ګازو مصرف.

## بانکي اصطلاحات یا تعریفونه -



**اکونټ نمر** – هغه ځانګړې شمېره چې د هر بانکي حساب د درلودونکي لپاره مشخصېږي او د هغه هویت تثبیتوي.

**(ACH)** – د شبکې په کچه د بانکونو او کرېډېټ د اتحادیو ترمنځ په الیکترونیکي ډول د پیسو انتقال.

(ATM) یا د پیسو اتومات ماشین – د یاد ماشین مشتریان کولی شي د دغه ماشین له لارې د تجارتي معاملاتو د ترسره کولو په برخه کې د اماناتو په منلو او قرضو په تادیه کولو، د نغدو پیسو په ایستلو، او همدارنګه د بانکي حسابونو ترمنځ د پیسو په انتقال سره خپل بانکي حساب ته لاسرسی ولري.

بیلانس – د هر ډول تجارتي معاملاتو له بشپړېدو وروسته په بانکي حساب کې پاتې پیسو ته بیلانس ویل کېږي.

بانک – هغه مالي بنسټ ته ویل کېږي چې د خپلو پېرودونکو لپاره د اماناتو د منلو، قرضې ورکولو په برخه کې او نور ګڼ شمېر نور مالي خدمات عرضه کوي.

**څانګې** – هغه بانکي څانګې چې د بانکونو یا کرېډېټ عرضه کوونکو شرکتونو یوه برخه ګڼل کېږي.

**غیر نغدینه تجارتي معاملات** – هغه مالي یا تجارتي معامله چې د فزیکي پیسو یا سیکو نه له استفادې پرته ترسره کېږي.

**د بانکي چک اکونټ** – هغه بانکي حساب چې په واسطه یې کولی شئ له بانکي چک یا ډیبټ کارت نه په استفادې سره په خپل حساب کې پیسې واچوئ، او پیسې وباسئ. دا ډول بانکي حساب د ورځینو معاملاتو لپاره استفاده کېږي او ګڼ شمېر معاملې لري.

**مشتري** – هغه شخص چې خپله ځان یا نورو خلکو ته توکي یا خدمات پېري.

کرېډېټ کارت – د تادیاتو د ترسره کولو کارت چې په واسطه یې کولی شئ د کارت له صادروونکي مرجع څخه د توکو او خدماتو د پېر لپاره پیسې قرض کړئ. هغه خریداري چې د کرېډېټ کارت په واسطه ترسره کېږي ډیبېټ رامنځ ته کوي، دا ځکه چې تاسو له بانک څخه پیسې قرض کوئ او دا وعده کوئ چې په ټاکلې موده کې به یې بېرته ورکوئ.

**د کرېډېټ اتحادیې** – هغه غیر انتفاعي مالي بنسټونه چې د خپلو غړیو لخوا مدیریت کېږي. د کرېډېټ اتحادیې بانکونه ته مساوي خدمات عرضه کوي، خو معمولاً د خپلو مشتریانو لپاره ټیټ فیسونه او غوره ګټه لري.

امانات یا ډیپازیټ – خپل حساب ته د پیسو اچول.

**ډیبیټ کارت** – هغه د تادیاتو ترسره کولو کارت چې په واسطه یې مشتري کولی شي له خپل د بانکي چک یا سپما حساب څخه په مستقیم ډول نغدې پیسې وباسي یا پېر ورباندې وکړي. ډیبیټ کارت د شکل په اساس کرېډېټ کارت ته ورته دی، خو د ارزښت له مخې دواړه یو شان نه دي.

**دیجیټلي پیسې** – هغه الیکترونیکي خدمات چې ستاسو د بانک او کرېډېټ کارت د معلوماتو ساتنه کوي ترڅو تاسو وکولی شئ د پیسو له فزیکي استفادې پرته تادیات ترسره کړئ.

**په مستقیم ډول حساب ته د پیسو اچول** – له خپل مستخدم یا کومې حکومتي ادارې څخه په مستقیم ډول خپل د بانکي چک یا سپما حساب ته د پیسو اچولو یوه آسانه او خوندي لار.

**فیس** – هغه مصارف چې د بانکي بنسټونو لخوا د بانکي حساب د پرانیستو، مراقبت، او نورو تجارتي معاملو او خدماتو د ترسره کولو په بدله کې اخیستل کېږي. د اکونټ تر پرانیستو مخکې دا مهمه ده چې پوه شئ فیس څه ته وایي.

**د سپما حساب ګټه یا سود** – هغه اضافي پیسې چې د سپما حساب له لارې ترلاسه کېږي او معمولاً د فیصدۍ (%)په اساس په اکونټ کې موجوده پیسو ته په کتو سره ښودل کېږي.

**په حساب کې حداقل لازمي مبلغ** – هغه کوچنی مقدار پیسې چې تاسو یې باید په خپل اکونټ کې له فیسونو څخه د مخنیوي به موخه ولرئ.

**په مبایل اپپ** کې د بانکولی اپلیکشن (Mobile App) – هغه سافټویر چې په ځیرک تلفون، ټبلیټ او نورو تلفونونو کې د استفادې په موخه ډیزاین شوی دی.

**مني آرډرز** یا د تادیاتو یو منل شوی میتود چې ډېری وخت د خلکو لخوا خپل د بانکي چک حساب ته له لاسرسي پرته استفاده کېږي. د پیسو غوښتنه یا مني آرډرز هغه پېر ته ویل کېږي چې په وړیا ډول ستاسو د مالي بنسټ یا بانک لخوا کېږي.

**مارټ ګېج** – هغه قرضه چې د کور یا واقعي ملکیت د اخیستو لپاره اخیستل کېږي.

**آنلاین بانکولي** – هغه بانکي خدمات چې په واسطه یې مشتریان کولی شي په آنلاین ډول خپلو بانکي حسابونو ته لاسرسی ولري او تجارتي معلومات ترسره کړي.

**اوورډرافټ یا تر اندازه د زیاتو پیسو ایستل** – کله چې تاسو په خپل بانکي حساب کې د یوې تجاري معاملې لپاره په کافي اندازه پیسې نه لرئ، خو ستاسو مالي بنسټ یا بانک د یوې اندازې فبس په بدله کې د هغې لپاره تادیه کوي.

**د پیسو نړیوال انتقال** – له هېواد څخه د باندې بل هېواد کې د شخص یا شرکت بانکي حساب ته د پیسو استول.

**نمبر** – یوه نه رقمیزه شمېره چې د امریکا په متحده ایالاتو کې د هر مالي بنسټ د هوېت د تشخیص په موخه استفاده کېږي.


د سپما حساب – یو ډول بانکي حساب چې په واسطه یې مشتریان کولی شي په خپل بیلانس کې پیسې اضافه کړي او ګټه یې پورته کړي. د بانکي حساب له لارې کولی شئ خپل پیسې وساتئ ترڅو په راتلونکي کې ورباندې پېر وکړئ.

– په یوه مالي بنسټ کې هغو کارمندانو ته ویل کېږي چې خپل مشتریانو سره د تجارتي معاملاتو په ترسره کېدو کې مرسته کوي. چې د پېرودونکي د خدماتو په برخه کې د استازي یا نماینده په نامه هم یادېږي.

**د پیسو ایستل** – له خپل بانکي حساب نه د پیسو ایستل.

د بانک له لارې د پیسو انتقال – له یوه بانکي حساب څخه بل هغې ته په الیکترونیکي ډول د پیسو انتقال، چې معمولاً په هېواد کې د ننه یا نړیوالو معاملاتو کې استفاده کېږي.

## د کرېډېټ په اړه اصطلاحات یا تعریفات



– ستاسو د کرېډېټ د راپور په اړه منفي مورد لکه د بازار موندنې لپاره ناوخته تادیه کول.

**یا له بانکي سیستم څخه محرومېدل** – هغه قانوني پروسه چې په واسطه یې شخص یا شرکت کولی شي د خپلو قرضونو د تادیې د نه توان په صورت کې په محکمه کې دوسیه پرانیزي.

**قرضه اخیستونکی** – هغه شخص یا شرکت چې له یوې قرضه ورکوونکې منبع څخه قرضه یا کرېډېټ اخلي.

**کرېډېټ** – هغه تړون چې له مخې یې قرضه ورکوونکې مرجع یا بانک د راتلونکو تادیاتو په ځای پیسې، توکي، یا خدمات عرضه کوي چې دا ډول کرېډېټ ډېری وخت فیس هم لري.

**د کرېډېټ یا اعتماد جوړولو فعالیتونه (د کرېډېټ مخینه)** – د ځانګړې مودې لپاره د شخص د کرېډېټ اړونده فعالیت په اړه د اسناد ثبتول، لکه کرېډېټ اکونټونه، د تادیاتو مخینه، او ډېبېټونه.

– د کرېډېټ یا اعتباراتو حداکثر مقدار چې قرضه ورکوونکې مرجع یې قرضه ورکوونکې ته د تمدید هیله لري.

– د یوه شخص د کرېډېټ د سابقې یا مخینې په اړه د اسنادو ثبتول، لکه د هغو معلومات ثبتول چې د کرېډېټ بانکي حسابونو، د تادیاتو د مخینې، او د پام وړ ډېبېټ په اړه موجود وي.

**د کرېډېټ یا اعتبار په اړه راپور چمتو کوونکي شرکتونه** – هغه بنسټ چې د اشخاصو او شرکتونو په اړه د کرېډېټ معلوماتو د راټولو او ساتلو مسؤلیت لري.

**د کرېډېټ نمره یا امتیاز** - – یوه 3 رقمي شمېره چې د کرېډېټ لپاره د شخص د وړتیاوو او په وخت سره د بېرته تادیه کولو د امکان ښکارندويي کوي.

**د کرېډېټ یا اعتبار وړتیا** – هغه حالت چې تاسو یوه غوره مالي مخینه ولرئ او د پور یا کرېډېټ اخیستو لپاره د یوه دقیق او باور وړ شخص په حیث په پام کې نیول کېږئ.

**درغلي** – کله چې تاسو د یو شخص لخوا د خپلې شخصي یا مالي ګټې په خاطر په قصدي ډول تېر ایستل کېږئ.

**ډېبېټ** – هغه مقدار پیسې چې باید د قرضدار لخوا قرض اخیستونکې مرجع ته تادیه شي.

**ډیفالټ** – د قرض د بېرته ادا کونې یا د کرېډېټ په برخه کې د ترسره شوي تړون د شرائطو د تطبیق په برخه کې پاتې راتلل.

– هغه شرائط چې د یوه داسې بانکي حساب په اړه توضیحات ورکوي چې په وخت سره تادیه نه کوي.

**د FICO نمرات** – یو ډول د کرېډېټ نمرې چې Fair Isaac Corporation (FICE) لخوا رامنځ ته شوې او د ګڼ شمېر پور ورکوونکو مراجعو لخوا د اشخاصو د پیسو ایستلو وړتیاوو ته د لاسرسي په موخه استفاده کېږي.

**د هؤیت د معلوماتو غلا** – کله چې یو شخص ستاسو له اجازې پرته ستاسو له شخصي معلوماتو استفاده یا نور جرمونه وکړي.

**پلټنه ("credit pull")** – د کرېډېډېټ یا اعتباراتو په اړه د چمتو شوي راپور غوښتنه. دوه ډوله پوښتنې یا استعلام موجود دی:

1. **جدي پوښتنې** – هغه پوښتنې چې د قرض ورکوونکې مرجع لخوا کرېډېټ ته ستاسو له غوښتنې وروسته مطرح کېږي. دغه پوښتنې به ستاسو د کرېډېټ نمرې کمې کړي.
2. **سطحي پوښتنې** – ستاسو د کرېډېټ د دوسیې په اړه بیاکتنې، لکه د پور ورکوونکې مرجع لخوا د موجوده اکونټ په اړه بیاکتنې، د قرض ورکوونکو مراجعو لخوا تر قرض اخیستو وړاندې پوښتنې او د کرېډېټ یا اعتباراتو په برخه کې ستاسو د کلني راپور لپاره ستاسو غوښتنې. پدې سره به ستاسو د کرېډېټ په نمراتو کې تغیر رامنځ ته نه شي.

**د ډېبېټ سود یا ګټه** – د پیسو د قرض اخیستو لګښت چې معمولاً د قرض کړی شوي مقدار د فیصدۍ (%) په حیث ښودل کېږي.

**قرض ورکوونکې مرجع** – هغه نهاد چې خپلو مشتریانو ته ته قرضه یا کرېډېټ چمتو کوي، لکه بانک، مالي بنسټ یا شخصي پور ورکوونکی.

**قرضه** – هغه مقدار پیسې چې له یوه بانک یا قرض ورکوونکي مرجع څخه د قرض په توګه اخیستل کېږي چې معمولاً د یو مقدار سود یا ګټې سره یو ځای په ټاکلي موده کې بېرته تادیه کېږي.

**Phishing:** یو ډول آنلاین درغلي چې د ایمېلونو یا لیکلیو پیغامونو نه په استفادې سره له خلکو څخه د شخصي معلوماتو لکه، پسورډونو، د کرېډېټ کارت د شمېرو، یا ټولنیز امنیت د شمېرو د غلا کولو هڅه کوي.

**د قناعت وړ بانکي حساب** – ستاسو د کرېډېټ اعتباراتو په راپور کې یو ډول مثبت عمل لکه په وخت سره د پیسو تادیه کول.

**درغلي – -** یوه جعلي طرحه چې په واسطه یې له خلکو څخه د هغوی د شخصي معلوماتو، پیسو، یا نور ارزښت لرونکو توکو د ترلاسه کولو هڅه کېږي.

**وینټېج نمرې** – هغه د کرېډېټ نمرې یا امتیازات چې د درېو لویو کرېډېټ ورکوونکو شرکتونو (Equifax، Experian او TransUnion) ترمنځ د یوه ترون له مخې رامنځ ته شوې دي. د وینټېج نمرې د FICO د نمبرو سره یو شان نه دي.